مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۳/۰۷/۲۱

# غازي امان الله خان د انګرېزي استخباراتو په لومه کې

(غازي امان الله خان)



(غازي امان الله خان)

میرانشاه د شمالي وزیرستان مرکز دی، ډیورنډ کرښه د خوست او میرانشاه تر منځ تېره شوي ده، هغه مهال د میرانشاه او خوست تر منځ د خلکو تګ راتګ په آزاد ډول جریان درلود. له میرانشاه څخه انګرېز جاسوس، لارنس په اسانۍ سره کولی شول چې د خپلو روزل شویو اجنټانو په مرسته له ملا عبدالله سره نامخامخ اړیکي ټینګې کړي.
هغه [ملا عبدالله] شنه چپنه اغوستله چې د پیغمبر(ص) د چپنې رنګ په شان وه، د افغانستان په فولکلور کې ګوډ ملا یو شخصیت وګرځیده، په وروسته کلونو کې خلکو د هغه کردارونه داسي بیانول: ګواکې له آسمانه الهام پرې راځي او د منګلو قوم ته به یې ویل:**«ولاړ شئ د فلانۍ ونې لاندې پیسې دي او تاسو هغه پیسې پیدا کړئ» هغوی به هلته تلل او هغه پیسې به هلته موجودې وې او وروسته به کیسه ختمه شوه، پیسې به د انګریزانو لخوا هلته ځای پر ځای شوي وې څکه هغوی غوښتل چې خلک په ګوډ ملا پسې روان کړي.**[1]
په همدې کال ۱۹۲۴ز، کې د امیر محمد یعقوب خان زوی عبدالکریم چې د هند په دېره دون[2] کې اوسیده، د انګرېزانو په شفاهي لارښوونې سره د خوست سیمې ته په پټه ورسید، هغه د افغانستان د پاچاهۍ، تخت او تاج ادعا درلودله او د ګوډ ملا (عبدالله) یې ملاتړی ؤ … .[3]
عبدالکریم د ځدرانو په نادرکوټ کې [ښایي اوسنی نادرشاه کوټ وي] د ځدرانو له یو مشر (برلینډ خان) سره یو ځای شو. خلک ژر پوه شول چې د پخواني امیر زوی دلته راغلی، د عبدالکریم لیدو ته ډلې، دلې خلک ورتلل، د عبدالکریم

[1]: ریه تالي ستېوآرت: اور په افغانستان کې. ژباړن: د محقق مرستیال، عبدالحسیب حکیمي. ۳۳۹مخ
[2] : د دېره دون سیمې اقلیم متعدل دی، انګرېز استعمار خپل جاسوسان او اجنټان په دېره دون کې روزل او ساتل چې ښه بېلګه یې نادري کورنۍ ده.
[3] : پروفیسور داکتر یوری تیخانف: نبرد افغاني استالین. مترجم: عزیز آریانفر ۱۷۱مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

احترام یې وکړ، یوه اعلامیه په دري ژبه ترتیب شوه، هغه یې د امیر امان الله خان پر ځای امیر اعلان کړ او د قبیلو ډېرو کسانو په اعلامیه کې ګوتې ولګولې.[4]
ډاکټر ویکتور کریګوویچ کارګون لیکي چې د پخواني امیر محمد یعقوب خان زوی عبدالکریم د انګریزانو لخوا افغانستان ته رالېږل شوی ؤ، هغه غوښتل چې د امیر امان الله خان حکومت راوپرځوي... .[5]
عبدالکریم په لیکل شویو مکتوبونو کې د [سقاؤ د زوی په څېر]، **(عبدالکریم خان خادم اسلام)** په نوم لاسلیکونه کول، ... ګوډ ملا داسي یو سړی پیدا کړ تر څو د امان الله ځای ناستی شي، منګلو، ځدرانو او احمدزیو قبیلو درې تنه لاربنود ملایان وګمارل چې عبدالکریم ته ځانونه ورسوي او هر یوه ورته خپله یوه یوه لور ورکړه، تر څو دا افتخار د هغوی په برخه شي(چې شاهزاده او راتلونکی پاچا د دوی زوم دی) دغو درو تنو ناویو عبدالکریم مصروف ساتلی ؤ... .[6]
د انګرېزانو حکومت ویلي وو: پنځوس کاله وروسته به هم افغانان انګریزان په دې کرم وګڼي چې عبدالکریم د هغوی په هڅونه د خوست پاڅون ته استول شوی ؤ چې هڅه وکړي له امان الله څخه چې یو قانوني پاچا ؤ، پاچاهي ونیسي او عبدالکریم به د یو حرامزاده په توګه وپېژني.[7]
ګوډ ملا جګړه پیل کړه او په جګړه کې یې پرمختګونه وکړل.
د عبدالکریم خان خادم اسلام او ملا عبدالله خان په مشرۍ له حکومتي ځواکونو سره په خوست، ګردېز، تیرا کنډو او لوګر کې جګړې رواني وې چې یاغیانو د پام وړ پرمخ تګونه هم کړي وو، هغه وو چې په غبرګون کې یې په ۱۹۲۴ز، کال د سپتامبر په ۱۴مه نېټه د افغانستان پارلمان د یاغیانو پر وړاندې د جهاد اعلان وکړ، سربېره پر دولتي ځواکونو، د هزاره ګانو ۴۰۰ کسان او په مشرقي کې د دولت پلوي قومونه: مومند، خوګیاني، شینواري او وزیرو، ۷زره ۵ سوه تنه لښکر راټول کړ او پکتیا ته ولېږل شو، د خوست مرکز متون چې د یاغیانو لخوا کلابند شوی ؤ، وژغورل شو. یاغیانو ماتې وکړه او د ۱۹۲۵ز، کال په فبرورۍ کې د یاغیانو مشران ملا عبدالله او ملا عبدالرشید ونیول شول او عبدالکریم وتښتېده.[8]
انګرېزانو له یوې خوا د خوست له یاغیانو څخه په پټه ملاتړ کاوه، له بلې خوا یې د یاغیانو د ځپلو په موخه امان الله خان ته دوه بم غورځوونکي الوتکي ډالۍ کړې او هغه پښتانه چې د خپلواکۍ په جګړه کې د انګرېزانو پر وړاندې او د امان الله په پلوی جګړیدلي وو، اوسمهال انګرېزانو په خپلو الوتکو، د امان الله خان په وسیله وځپل.
له یاغیانو سره د جګړې پر مهال، امان الله ته د الوتکو ډالۍ کول د انګرېزانو یو بل شیطاني تکتیک ؤ، په دې اړه روسی پروفیسور ډاکټر یوري تیخانف وایي چې انګرېزانو په دې توګه په یوه غشي څو هدفه وویشتل:«انګرېزانو د ۱۹۲۴ز، کال په اګست کې د خوست د پاڅون د ځپلو په موخه امان الله ته دوه جګړه ییزې (بریستول) الوتکې ورکړې چې دا لومړنی الوتکې وې چې د افغانستان په سویل کې یې د یاغیانو ډلې او کلې بمبار کړل، انګرېزانو له خپل حریف، امان الله سره د دې مرستې له امله په یوه غشي څو هدفه وویشتل:
انګرېزانو وکړای شول په ۱۹۲۴ز، کال کې له هغو قبایلو څخه د امان الله په لاس غچ واخلي چې په ۱۹۱۹ز، کال کې د انګرېزانو پر وړاندې په مېړاني سره جګړېدلي وو او د امان الله خان د بریا سبب شوي وو.
له امان الله خان سره د انګرېزانو پوځي مرستې، په حقیقت د یو سرکښ آس ډالۍ کول وو، داسې چې انګرېزي الوتکو د افغان امیر [امان الله خان] په امر پر پښتنو باندې بمونه اورول! چې په دې بمبار سره ډېیورنډ کرښې دواړو غاړو پښتنو په منځ کې د امان الله خان حیثیت او عزت له خاورو سره خاوري شو.[9]
ډاکټر یوري تیخانف رښتیا وایي، انګرېزان پوهېدل چې پښتانه هر څومره وځپل شي لاپسې پیاوړي او کینه یې زیاتیږي. لکه چې په کابل کې انګرېز سفیر د شینوارو د جګړې پر مهال امان الله خان ته ویلي وو:«پر رعیت باندې له الوتکو څخه بمبار کول ستا شهرت ته تاوان ورساوه، په تېره بیا چې بم غورځوونکي کسان روسان وو، ته د قبایلو له خوا د اسلام په مقابل کې داسي تورن شوی یې چې اسلام دې تحقیر کړی دی او دا چې ملحدانو ته دې اجازه ورکړې چې ستا پر ولس باندې بمونه وغورځوي.[10]

---

[4]: اور په افغانستان کې. ۳۴۷مخ
[5]: افغانستان درسالهای بیست و سی ـ قرن بیستم میلادي. ژباړن: ۱۶مخ
[6]: اور په افغانستان کې. ۳۵۲مخ
[7]: هماغه کتاب.۳۴۸مخ
[8]: نبرد افغاني استالین. ۱۷۶مخ
[9]: هماغه کتاب. ۱۷۴مخ
[10]: اور په افغانستان کې. ۵۳۶مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کله چې په خوست کې یاغیان وځېل شول او مشران یې ونیول شول نو «عبدالکریم یوازې د ځو تنو لخوا بدرګه کیده چې ده ورته (زما شخصي ساتونکي) ویل، [دا شوني وه چې] ځینو له دغو کسانو به هغه په بریتانویانو باندی خرڅ کړی وای. عبدالکریم اوس خپل بادیګاردان شاته پرښودل او له افغانستان څخه ووت ... کوم شی چې هغه له ځان سره یوړ، یوه کمپله وه.11
امان الله له انګریزانو غوښتنه وکړه لکه څنګه چې د عجب خان (اپریدي) په موضوع کې یې ورسره همکاري کړې وه، هغوی دې هم ورته همکاري وکړي، عبدالکریم دې [افغان حکومت ته په لاس] ورکړي خو انګریزانو ونه منله ویې ویل چې هغه یو سیاسي مجرم دی نو هغه یې د توقیف په حال کې له سرحد څخه لرې برما ته واستولو.12
دا مهال چې عبدالکریم په یوه تېښته له ډیورنډ کرښې اوښتی ؤ او درې تنه میرمنې یې په خوست کې پرېښې وې نو انګریزانو د عبدالکریم خان خادم اسلام، ناکامي او بې کفایتي ولیده چې د کار سړی نه دی او په راتلونکې کې هم په درد نه خوري، نو د امان الله خان د خوشالولو په موخه یې «د برما د (شوبیو) عسکري قشلې ته واستول شو چې هلته ورته بنګله ورکړل شوه، عبدالکریم له دوه تنو انګریزانو (واټ او مکنامارا) سره ملګری ؤ، له دوی سره یې د عیسوي مذهب په باره کې خبرې وکړې او په پای کې یې یو انجیل ترې واخیست او شروع یې وکړه چې په شوبیو کې په یواځېنۍ انګریزي [عیسوي] کلیسا کې د ماښام په مذهبي سرودونو کې ګډون وکړي، د ۱۹۲۷ز، کال په لومړیو کې عبدالکریم د هغې کلیسا رییس ته چې (ریونډ ستاکنګس) نومیده وویل: غواړي عیسوی شي... عبدالکریم خان [خادم دین اسلام] وروسته له هغې چې خپله وصیت نامه او خدای په اماني یې لیکلي وه ځان وژنه وکړه، نومړي په وصیت نامه کې لیکلي وو ... زما مړی باید د عیسویانو د مړیو په شان ښخ شي.»13
د عبدالکریم د مرګ په اړه میر محمد غلام غبار لیکي چې انګریزانو یو تن هندوستانی چې د امیر محمد یعقوب خان زوی عبدالکریم نومی پکتیا ته ولیږه... عبدالکریم هند ته وتښتیده او ظاهراً د انګریزانو پولیسو ونیو او برما ته یې واستاوه، مولوي یار محمد خان مکوری د افغانستان څخه هند ته ولاړ، هغه یې تعقیب کړ او په برما کې یې وموند او ویې وژلو، نومړی مولوي بیرته افغانستان ته راغلو... په داسې حال کې چې د افغانستان جنرال قونسول، حاجي محمد اکبر خان هر ډول مداخله په دې اړه رد کړه، خو شخصاً شاه امان الله خان یارمحمد ونازاوه... .14
د خوست پاڅون وځپل شو، «د منګلو یاغي مشران سنک او زلمی وتښتیدل او د منګلو د موسی خېلو مقاومت د امان الله خان د سرتېرو لخوا مات شو. ببرک خان ځدراڼ چې د هېواد د خپلواکۍ جګړې له غازیانو څخه ؤ او د امان الله خان پلوی ؤ، په همدې جګړو کې ووژل شو.15
امان الله خېل تخت او تاج وساتلی شو خو دغه برې د هېواد لپاره په لوړه بیه تمام شو، د پښتنو ۳زره ۵ سوه کورونه وران شول چې ډېر یې د هوایي بمباریو له امله ویجاړ شول، (۱۵۰۷۵) وسله وال کسان ووژل شول، د منګلو او ځدرانو ۴۰زره کسان بریتانوي هند ته وتښتیدل.16
امان الله خان د پکتیا د پښتنو ښځې د بندیانو په توګه ونیولې او په رسمي ډول یې په کابل کې خلکو ته ورښکاره کړې چې د پاچا دا ډول عمل په پښتنو کې ساری نه درلود، دا ډول عمل د پښتنو لپاره د مرګ او ژوند خبره ده. «د برې دوه رسمي ګذشتونه تر سره شول... په دواړو مراسمو کې ښځینه بندیانې په اوښانو او خرو باندې سپرې وښودل شوې، د هغوی د ښځو بندیانول او دا ډول ځرګندیدل، هغه غلزي کوچیان خواشیني او وترهول چې خپل مشران یې د نماینده ګانو په توګه له یو (امان لیک) سره کابل ته واستول چې احتجاج وکړي، دا مشران د پاچا لخوا په بندیخانو کې واچول شول... .17
د پنځو زرو تنو بندیانو له جملې څخه د اعدام شویو شمېر پنځه اویا تنو ته رسیده، پرته د التیمور له غلزي احمدزیو څخه چې بدترین یاغیان وو، نور د منګلو، ځدرانو، او احمدزیو ښځې او ماشومان له بنده خوشي شول، د التیمور غلزي احمدزي له خپلو نارینه خپلوانو سره ترکستان ته یوړل شول چې هلته ورته ځمکې ورکړل شوې، ملکې ثریا

---

11 : هماغه کتاب. ۳۶۰مخ
12 : اور په افغانستان کې.۳۶۲مخ
13 : هماغه کتاب.۳۷۰مخ
14 : افغانستان در مسیر تاریخ.۸۱۰مخ
15 : هماغه کتاب. ۸۱۰مخ
16 : نبرد افغانی استالین. ۱۷۷مخ
17 : اور په افغانستان کې.۳۶۳مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د باغي کسانو د ښځو لپاره په حرم کې غونده جوړه کړه او ورته یې وویل: «ستاسو نارینه د پوره سزا وړ بلل کیږي چې ممکن سزا ورته ورکړل شي او له تاسو سره چې دا نارینه مو ځولي دي ډېر ښه سلوک شوی دی.»[18]
د ځدرانو قوم، ملا عبدالله او ملا عبدالرشید چې په غرونو کې پټ شوي وو، ونیول او دولت ته یې وسپارل.[19]
... ګوډ ملا د حضرت پیغمبر(ص) د چینې په شان شنه چینه پر اوږو وه چې ډېر غمجن مالومیده، هغه داسې ښکاریده چې ګواکې هېڅ کوم زیان ورځخه سر نه وي وهلی. «دغه تش په نامه ملایان چې حتی په خپله شیطان ورځخه ځان په امان کې ساتي» دا هغه مطلب ؤ چې امان الله خان د ګوډ ملا او د هغه د ملګرو د معرفي کولو په وخت، په (۱۹۲۵، ز) کال د جنوری په ۲۱ نیټه هغه مهال چې هغوی د مراسمو په ترڅ کې مجرمین اعلانیدل ویلی ؤ.[20]
وروسته له هغې چې ګوډ ملا په عمومي مراسمو کې په ګولیو وویشتل شو، ځینو افغاني عسکرو د هغه مړی تر پښو لاندې کړ، که څه هم په دې عمل کې د امان الله هېڅ لاس نه ؤ خو توندو کسانو دا عمل د عسکرو لخوا نه، بلکې د هغوی د امیر لخوا وګڼلو.[21]
د عسکرو لخوا د ګوډ ملا د مړي بې حرمته کول او د پښتنو ښځو بندیانول، خلکو ته په (رسمي ګذشت) کې د هغوی ښودل، د امان الله خان لپاره د هغه د ریفورمونو تر څنګ یو بل د بدنامی او کرکې عوامل شول او وړاندې له دې د حضرات مجددي محمد صادق خان او محمد معصوم خان بندیانول (چې خلک په درناوي ورته قایل وو) او د حضرت صاحب ملا امام قاضي عبدالرحمن خان اعدامول، د امان الله خان پر وړاندې یو بل ورانوونکې پاځون ته لاره هواره کړه چې د راتلونکو بغاوتونو په رامنځ کولو کې انګرېزانو پوره مرسته وکړه.
د خوست د بغاوت له غلي کولو وروسته امان الله خان له خپلې مېرمنې ملکې ثریا او دولتي هیأت سره د هند له لارې اروپا ته په یو اوږده سفر وخوځید.



(ملا عبدالله مشهور په ګوډ ملا)

نېټه:۱۴۰۲/۵/۳

**نور بیا**

---

[18] : اور په افغانستان کې.۳٦۳مخ
[19] : افغا نستان در مسیر تاریخ.۸۱۰
[20] : اور په افغانستان کې.۳٦۰مخ
[21] : هماغه کتاب. ۳٦٤مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ